پنځه وخته لمونځونه، له يوې جمعې څخه تر بلې پورې، او له يو رمضان څخه تر بل پورې، د دوی تر منځه د ګناهونو کفاره ده پدې شرط چې له کبيره ګناهونو څخه ځان وساتل شي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به فرمايل: "پنځه وخته لمونځونه، له يوې جمعې څخه تر بلې پورې، او له يو رمضان څخه تر بل پورې، د دوی تر منځه د ګناهونو کفاره ده پدې شرط چې له کبيره ګناهونو څخه ځان وساتل شي".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په شپه او ورځ کې پنځه وخته فرض لمونځونه، او هره اونۍ کې د جمعې لمونځ، او هر کال د رمضان د مياشتې روژه د دوی تر منځه د صغيره ګناهونو کفاره ده پدې شرط چې د لويو ګناهونو څخه ځان وژغورل شي. او کوم چې لوی ګناهونه دي لکه: زنا او شراب څښل نو پرته له توبې يې کفاره نشته.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3591